ACLU District of Columbia ACLU Maryland ACLU Virginia

**په DC، میریلینډ او ویرجینیا کې د ACLU ملګري، د افغان کډوالو سره پیوستون کې.**

زمونږ زړونه له غمه ډک دي پر هغه اندیښنه را پارووونکو صحنو د افغان متحدینو او پناه غوښتونکو چې د طالبانو لخوا د واک په بشپړ نیولو سره د هیواد څخه د تیښتې په لټه کې دي. د کال له پیل څخه تر 400,000 افغانان چې هر څه یې پرېښې دي، دې ته اړ کړل شوي چې خپل کور پرېږدي. څرنګه چې مې میاشت پر ختمیدو شوه، دا وړاندوینه شوې وه چې [80% د شا وخوا یو میلیون د ځلورمې برخې د بې ځایه شوو افغانانو څخه ښځې، ماشومان](), او هغه خلک چې تاوتریخوالي او قانوني تقیب خطر سره مخ دي تشکیلوي. یوازې د DC-Maryland-Virginia (DMV) په سیمه کې، په تخمینې ډول، 2,000 افغانان او کورنۍ متحده ایالاتو کې د متحدینو د پناه عملیاتو تر لاندې ځای پر ځای شوي. تمه کیږي چې زرګونه نور هم په راتلونکو اونیو کې راشي. د دغه لوړېدونکي بحران بشري ضایعات ډیر زیات دي. او مونږ دا اخلاقي مسؤلیت لرو تر څو خپلو متحدینو، د هغو کورنیو او هغه چې د قانوني تعقیب تر خطر لاندې دي ورته د پناه ځای وړاندې کړو.

حتې وړاندې له دې چې د ویرجینیا والي رالف نورثام او د میریلند والي لارې هوګن [اعلان وکړ]() چې "دوې چمتو دي او رضایت لري چې ډیر افغان پناه غوښتونکي ومنې، د کډوالو د حقوقو مدافعین، وکیلان او رضاکاران د DMV په سیمه کې په نه ستړې کیدونکي ډول کار کوي تر څو د غم په وخت کې د افغان کورنیو ملاتړ وکړي. په سختې بیړې سره په کار کولو سره، [دغه ډلې د افغانو کډوالو لپاره کورونه تیاروي](), د ویزې په مراحلو کې د کډوالو سره کار کوې، [طې ارزونه، ډوډې، مذهبي ملاتړ، او نورې اړتیاوې برابروي](). ډیر هم رضاکاران چې د کډوالو سره ځای پر ځای کیدو کې مرسته کوې خپله پناه غوښتونکي او د کډوالې د ځانګړې ویزې (SIV) درلودونکي دي. ځینې د کورنې غړې او یا هم نور نږدې کسان چې لا اوس هم په افغانستان کې پاتې دي لرې، کوم چې په بیچارګې سره د افغانستان څخه د وتلو په هڅه کې دي. دغه منظمې هڅې د عمل په میدان کې ډیر غټ اغیز لرې د هغو زرګونو افغانانو پر ژوند باندې چې اوس اوس ورڅخه خپل هیواد، ټولنه، او هر څه چې یې درلودل په بې رحمې سره واخیستل شول.

**د ویرجینیا، واشنګټن ډي سي، او میریلند اړونده د ACLU همکاران او همدارنګه هغه [ډلې او سازمانونه]() چې په نه ستړې کیدونکي ډول د افغانانو د ملاتړ لپاره کار کوي زمونږ د افغانو ګاونډیانو سره په همغږۍ کې دي.**

مونږ پناه غوښتونکو ته شا نشو کولاې او خپل د ملت هیله بخښوونکې ارزښتونه نشو تر پښو لاندې کولاې.

مونږ باید د هغه خلکو حقوق چې بیځایه شوې، څوک چې نه یوازې بیړنۍ مرستې بلکې اوږدمهاله ملاتړ ته ددې لپاره چې خپل ژوند په یوه نوې هیواد کې بیا جوړ کړي وساتو.

زمونږ څخه هر یو اوس کولاې شي ځان وښایي او عمل وکړي. **دلته یو څو د لمس وړ اعمال دي چې تاسو یې ترسره کولاې شي:**

1. کچیرته تاسو غواړې چې د هوایي ډګر څخه د راخیستلو، د اپارتمان په تیارولو، او/یا غواړې د ډوډې په تیارولو کې و افغانانو او افغانو کورنیو سره رضاکارانه مرسته وکړي، [https://bit.ly/LIRSConnect]() ته لاړ شئ.

ACLU District of Columbia ACLU Maryland ACLU Virginia

2. کچیرته تاسو غواړې د ترانسپورت، کور موندنې، او د هغه خلکو او کورنیو چې د قانوني تعقیب څخه ویرجینیا کې فورت لي ته تیښته کوي د نورو لومړنیو اړتیاوو د مرستې لپاره https://bit.ly/FortLeeSupport ته لاړ شئ.
3. دلته NGOs/خیریه بنسټونه چې افغانستان کې دي چې تاسو ورسره مرسته کولای شئ: https://bit.ly/AfghanSupportOrgs

**لاندې د سازمانونو او بیا ځای پر ځای کوونکو ډلو لسټ دی چې د DMV په سیمه کې د افغانانو د بیا ځای پر ځای کولو لپاره کار کوي:**

- د ژغورنې نړیواله کمیټه
  - بالتیمور: https://www.rescue.org/united-states/baltimore-md
  - سیلور سپرینګ: https://www.rescue.org/united-states/silver-spring-md
  - ریچمونډ: https://www.rescue.org/united-states/richmond-va
  - چارلوټسوایل: https://www.rescue.org/united-states/charlottesville-va

- Lutheran Immigration and Refugee Services (د لوترن د کډوالۍ او پناه غوښتنې خدمات) (بالتیمور، میریلنډ)https://lssnca.org/take_action/afghan-allies.html
- Lutheran Social Services of the National Capital Area (لوترن د نیشنل کپیټل د سیمې ټولنیز خدمات) (واشنګټن ډي سي):
- https://lssnca.org/HIAS https://www.hias.org/where/united-states
- Homes Not Borders (واشنګټن ډي سي): https://www.homesnotborders.org/
- Justice 4 Muslim Collective (واشنګټن ډي سي): https://www.justiceformuslims.org/
- Catholic Charities Archdiocese of Washington (واشنګټن ډي سي: https://www.catholiccharitiesdc.org/gethelp/our-services/immigrantsandrefugees/
- Muslim Aid USA (مک کلین، ویرجینیا)https://www.mausa.org/afghanistan-idp-emergency/
- Islamic Relief USA (الکساندریا، ویرجینیا): https://irusa.org/
- The Mustafa Center (اناډیل، ویرجینیا): https://www.mustafacenter.org/

د بحران په وخت کې، دا اړینه ده چې مونږ ټول سره یو ځای واوسو تر څو د هغو سره چې اړتیا لري مرسته وکړو. مونږ باید یو بله راغلاست ویونکی هیواد واوسو او هغو کلماتو ته چې د آزادۍ په مجسمې باندې کاږل شوي احترام وکړو. مونږ دا په تیره کې کړي، مونږ یې بیا هم کولای شو.